AFGHANISTAN CENTER FOR COMMERCIAL DISPUTE RESOLUTION
د افغانستان د سوداګریزو شخړو حل مرکز
مرکز حل منازعات تجارتی افغانستان

# د اخیستلو او خرڅولو نمونه وی قرارداد

## د افغانستان د سوداګریزو شخړو حل مرکز

سپتمبر 2020

# د اخیستلو او خرڅولو قرارداد

(الف) طرف

- او -

(ب) طرف

تر منځ

دا قرارداد د (الف) طرف او (ب) طرف تر منځ صورت نیسي.

**مقدمه:**

د پیر و پلور (اجناس) د قرارداد صلاحیت لرونکي اړخونه په لاندي ډول دي:

(i) د الف طرف له اړخه: (... "پلورونکی")؛ او

(ii) د ب طرف له اړخه: (... "پیرونکی")؛

چې پیرونکی او پلورونکی په دې قرارداد کې په جمعي توګه د "**طرفینو**" په نوم یادیږي؛

**د ....... په منظور دا قرارداد په لاندې شکل منعقد شوی دی:**

**.1 د قرارداد موضوع**

1.1 پلورونکی (اجناس) فراهم کوي او پیرونکو ېي د تسلیمیدو په ځای کې ددې قرارداد د اعتبار د مدت په جریان کې تر لاسه کوي.

(a) پلورونکی (اجناس) په xxx قیمت ددې قرارداد د اعتبار د مدت په جریان کې فراهم کوي.

1.2 ددې قرارداد د انفاذ تاریخ د امضا له تاریخه پیلیږي.

**.2 تفسیر**

2.1 کچیرې طرفین کوم بل تعبیر ونکړي، نو مذکور اصطلاحات لاندې مفهایم افاده کوي:

(a) هغه کلمې چې د "**مفرد**" شکل لرونکې وي، په عین حال کې د مفرد او جمع حالت افاده کوي؛

(b) د یو "**جنسیت**" (Gender) ذکرکول همزمان بل جنسیت هم افاده کوي؛

(c) کلماتی که بر هغه کلمات چې په "**حقیقي اشخاصو**" په شراکت، کمپنۍ، شرکتونو، اماناتو، اتحادیو، موسساتو، دولتي نهادونو یا نور نهاونو ( که حقوقي حیثت ولري یا نه) دلالت کوي، یا ددې برعکس.

(d) د "**شخص**"، "**طرف**" او "**نهاد**" ذکرکول د ځاینساتي، نماینده او صلاحیت لرونکي کس مانا هم افاده کوي؛

(e) له "**قانون**" یا "**د قانون د حکم**" څخه مراد تعدیل، تغیر، تزید او توحید دی، او د قانون یا د قانون د حکم تجدید چې د وخت په تیریدو سره واقع کیږي، هم مراد دی؛

(f) د "**شامل**" یا "**شامل دی**" کلمې له محدودیت پرته تفسیر کیږي؛

(g) د یو لیست د معرفي کولو پر مهال د "**د مثال په ډول**" یا "**مثلا**" همدا لیست د ذکر شویو شیانو او مشابه شیانو پورې نه محدودیږي؛

(h) د عنوانونو له ذکر کولو څخه هدف یوازې د قراداد متن ته د رجوع په برخه کې د اسانتیا ده او د قرارداد تفسیر او جوړښت نه اغېزمنوي؛

(i) د "**په دې کې**"، "**دلته**"، "**مطابق**" او نور مشابه کلمات کومې فرعي او جزوي برخې ته نه، بلکې ټول قرارداد ته اشاره کوي؛

(j) په یوه هوکړه د  تفاهم په یادداشت، قرارداد، قباله، یا کوم بل سند باندې استناد د همدې موافقتنامې، د تفاهم په یادداشت او قرارداد په تعدیل، تغیر او زیاتوالي، چې د وخت په تیریدو سره صورت نیسي، استناد دی؛

(k) توضیحات، فصلونه، ضمایم، مدارک یا د قرارداد جدولونه باید د فصلونو، پراګرافونو، ضمایمو، مدارکو او د قرارداد د ضمایمو په توګه و پیژندل شي؛

(l) د قاعدې د جوړولو اصل، که موجود وي، دادی که قرارداد د هغه طرفینو په ضد تفسیرېږي چې لیکلی او تیار کړی يې وي، نه تطبیقیږي.

(m) د وخت د محاسبې په صورت کې د یوې ورځې یا واقعې په ذکر کولو سره همغه ورځ یا واقعه د ورځې محاسبه په وخت کې نه حسابیږي. په هغه صورت کې چې په هغه کې باید یو کار تر سره شي باید کاري ورځ نه وي، هغه کار باید په همغه ورځ یا له هغه مخکې تر سره شوی وي.

## 3. تعریفونه

"ACDR" د افغانستان د سوداګریزو شخړو د حل مرکز څخه عبارت دی چې.... لاندې تاسیس شوی دی.

"**د تطبیق وړ قانون**" له ټولو هغه فرمانونو، پریکړو، قوانینو، تقنیني اسنادو، مصوبو، احکامو، هدایاتو ( په هغه صورت کې قانوني اعتبار ولري)، دستورونو، تعهداتو، کود، د تعدیلاتو په شمول مقررې، تغیرات، تجدید او د د صلاحیت لرونکي دولتي ارګان له لورې د بیا وضع کولو، صادرولو، نشروول یا تفسیرولو څخه، چې په خلک ورته لاسرسی ولري، عبارت دی.

"**قرارداد**" عبارت له حاضر قرارداد څخه دی چې د اجناسو په خرید و فروخت (PSA) مبني وي او ټول مواد او ضمیمې يې موجودې وي او هر ډول تعدیلات او تغیرات په کې شامل کړل شوي وي.

"**د تحویلۍ ځای**" له فزیکي موقعیت څخه عبارت دی ......

"**شخړه**" له هغه تعارضاتو او اختلافاتو څخه عبارت دی چې د اجراتو پر مهال د قرارداد د جانبینو تر منځ رامنځته کیږي.

" **نیول یا تادیه کول**" د اخېستونکي مکلفیت دی چې اجناس وپلوري، یا په قرارداد کې د جنس مشخص شوی قیمت ورکړي اګر که اجناس نه قبلوي.

## 4. د جنس قیمت

4.1 د جنس قیمت چې د پلورونکي له لورې اخېستونکي ته ورکول کیږي او د همدې له مخې تعینیږي او  د ......... مودې لپاره د اعتبار وړ وي.

4.2 ددې قرارداد لاندې ټوله محاسبه په افغانۍ یا بله موافقه شوې سکه باندې تر سره کیږي.

## 5. د جنس د تحویلۍ شرایط

### د جنس تحویلي

(a) د جنس تحویلي د جدولونو او طرزالعملونو ( د موجودیت په صورت) کې تر سره کیږي.

(b) خرڅونکی جنس د تحویلۍ په ځای کې چې په ....... واقع وي اخېستونکي ته تحویلوي.

(c) خرڅونکی او اخېستونکی باید د لاندې مشکلاتو او پېښو د واقع کېدو په صورت کې یو بل ته خبر ورکړي:

(i)

## .6 تادیه

### 6.1 له وړاندې تادیه

(a) اخېستونکی باید د هر جنس سل فیصده تحویلي له وړاندې تادیه کړي چې په جدول کې مشخص شوی وي او د () ورځو بانکي فعالیت ارایه کړي.

(b) له وړاندې تادیه کولی شي چې د اصلي اسنادو او کاپي اسنادو له ارایه کولو پرته په الکترونیکي توګه تر سره شي.

### 6.2 د انوایس له وجې رامنځته شوې ستونزې

(a) که هر طرف په انوایس کې د ذکر شوي مبلغ په مکمله یا نیمه اندازه شکمن وي، او د قرارداد مطابق استول شوی وي، نو بل طرف ته باید له (؟) ورځو څخه مخکې د انوایس د تر لاسه کولو په اړه خبر ورکړي.

(b) طرفین باید د امکان تر بریده هڅه وکړي چې د مناسب میعاد او ورځو په داخل کې خپله شخړه حل کړي او د شخړې له واقع کیدو راهیسې (؟) ورځې تیرې نشي. کچیرې طرفین نشي کولی خپله شخړه د شخړې له واقع کیدو وروسته په (؟) ورځو کې حل نکړي، هر طرف باید د نهمې مادې سره سم شخړه د حل په موخه تسلیم کړي.

### 6.3 مسولیت او د ضایع کیدو خطر

خرڅونکی باید د جنس تر تحویلۍ پورې د تحویلۍ په ځای کې مسولیت په غاړه واخلي او ټول خطرونه ومني. چې د قرارداد له مخې جنس خرڅ شي او د تحویلۍ په ځای کې اخېستونکي ته تحویل شي، نو د ضیاع مسولیت یې باید له خرڅونکي نه اخېستونکي ته انتقال شي.

## .7 غیر مترقبه حالات

### 7.1 د غیر مترقبه حالاتو پېښېدل

(a) طرفین باید د قرارداد مطابق خپل مسولیتونه په ښه شکل ادا کړي.

(b) هغه غیر مترقبه حالات چې له منطقي نظره د طرفینو له کنتروله بهر وي او د مسولیتونو د سر ته رسولو د تاخیر سبب کیږي، امکان لري چې د طرفینو له منځه یو طرف د مسولیتونو له تر سره کولو څخه معاف شي. سیلاب، زلزله، طوفان، تندر، اور لګیدل، تیز باد، لوخړه، انفجار، خطرناک مرضونه، جنګ یا تروریستي اعمال ( اعلان شوي یا نااعلان شوي)، شورش، مدني اعتراضونه، مظاهرې او اعتصاب په غیر مترقبه پېښو کې

شمېرل کیږي، دا هغه پېښې دي چې د قرارداد طرفونه یې د خپل توان سره سم پیشبیني نشي کولی چې ځان ترې وساتي.

7.2 په هغه صورت کې چې یو له طرفینو څخه چې د غیر مترقبه حالاتو په صورت کې خپل مسولیتونه ادا نه کړی شي، مذکور طرف باید په عاجله توګه د واقعې له پېښېدو وروسته د (؟؟) ورځو په موده کې بل طرف ته خبر ورکړي او د غیر مترقبه حالاتو د واقع کیدو په اړه قناعت بخښونکي مالومات وړاندې کړي او د وضعیت د بهبود لپاره تخمیني وخت هم ذکر کړي.

(a) د غیر مترقبه حالاتو له ختمېدو وروسته د غیر مترقبه حالت مدعي طرف باید بل طرف د هغه تاریخ په اړه خبر ورکړي چې طرف مدعي خپل مسولیتونه دوباره په غاړه اخلي یا یې د بیا پیلیدو اراده لري.

## .8 قانون قابل تطبیق

8.1 د افغانستان قوانین په دې قرارداد او دې قرارداد سره اړوند غیر قراردادي مکلفیتونو باندې حاکم دي او د افغانستان د قوانینو مطابق تفسیریږي.

### 8.2 په قانون کې تغیر

که د قرارداد له اجرا نه وروسته هر وخت په نافده قوانینو، احکامو، مقرراتو یا نورو تقنیني اسنادو یا نافذه تصامیمو کې داسې تغیر راشي چې د قرارداد له مخې د کوم طرف په توازن یا اقتصادي وضعیت ژور اغېز وکړي، په دې صورت کې باید:

(a) اغېزمن شوی طرف په دې ځای کې د درج شوي تغیر په اړه د تغیر د واقع کیدو په خبر ورکوي او په دې قرارداد کې تعدیلات پیشنهادوي تر څو د اغېزمن شوي طرف اقتصادي وضعیت هغه حالت ته ورسوي چې په قانون کې له تغیر مخکې ترې برخمن و.

(b) که چیرې دواړه طرفونه ونتوانیږي چې په (؟) ورځو کې پیشنهاد شوي تغیرات تر لاسه کړي، او هر یو موافقه وکړي، له دواړه طرفونو څخه هر یو کولی شي چې د اتمې مادې احکامو له مخې موضوع د منازعې د حل په موخه ارایه کړي.

## .9 د شخړې حل

### 9.1 د شخړې دوستانه حل

هر ډول شخړه چې د قرارداد په اړه یا د قرارداد په اړه کومه پوښتنه، موجودیت، اعتبار، احراز او فسخه کیدو په اړه راپورته کیږي، باید د طرفینو له لورې حل شي.

### 9.2 د شخړې یادداشت

که طرفین ونتوانیږي چې شخړه د دوستۍ په فضا کې حل و فصل کړي، هر یو له طرفینو څخه کولی شي بل طرف ته کتبي یادداشت ورکړي او په خپل یادداشت کې د شخړې تفصیل ذکر کړي او د موضوع په اړه خپل موقف مشخص کړي، همداراز د شخړې د حل لپاره باید په خپله پریکړه مبني یادداشت د شخړې د حل په موخه یو بې طرفه متخصص ته ارایه کړي.

### 9.3 منځګړیتوب

هره شخړه چې قرارداد سره یا د قرارداد اعتبار، موجودیت، اجرا، تفسیر او فسخه کیدو سره تړاو ولري باید د افغانستان د تجارتي شخړو د حل مرکز ته منځګړیتوب ته راجع شي او ددوی په

واسطه حل شي. د افغانستان د تجارتي شخړو د حل مرکز باید د مربوطه مقرراتو له مخې، چې په دې فقره کې ځای په ځای شوي، شخړې اداره کړي.
د منځګړیتوب محل او قانوني مقر باید (؟؟) وي.
د حکم شمارې باید (؟؟) وي.
د منځګړیتوب ژبه باید (؟؟) وي.

### 9.4 د تطبیق رضایت

د قرارداد هر طرف د ښه نیت له مخې باید موافقه وکړي چې په قراراداد کې رامنځته شوې شخړه باید په دې قرارداد کې د شخړو د هوارې لپاره د پیش بیني شویو احکامو سره سم اجراآت وکړي او په دې سریره باید ټولې فیصلې تطبیق او د حق الخدمت فیس رعایت او اجرا کړي.

## 10. فسخ او د فسخې یادداشت

### 10.1 فسخ

دا قرارداد په xx/xx/20xx تاریخ منقضي شوی او تادیات یې له مکملې تصفیې مخکې صورت نیسي.
هیڅ شی نشي کولی چې د قرارداد د تاریخ له پوره کیدو مخکې دواړه طرفونه د خپل منځي رضایت په بنا د قرارداد له فسخه کولو څخه منع کړی.

### 10.2 د فسخې د تصمیم یادداشت او د فسخې یادداشت

هر طرف که وغواړي چې د تاریخ له رارسیدو مخکې د قرارداد د فسخه کیدو غوښتنه وکړي، باید یو کتبي یادداشت بل طرف ته ورکړي او هغه ځایونه باید په ګوته کړي چې لازم مسولیتونه په کې ادا شوي نه وي او له امله یې دا قرارداد فسخه کیږي.

## 11. د استعمال ژبه

د خرڅولو او اخیستلو د قرارداد د استعمال ژبه دري او پښتو یا بله هره ژبه چې له قوت او اعتبار قانوني څخه په مساوي شکل برخمن وي. د قرارداد د مختلفو نسخو تر منځ د مشکل د رامنځته کیدو په صورت کې د (؟؟؟) ژبې تفسیر ته ترجیح ورکول کیږي.

## 12. د قرارداد تعدیل

د طرفینو د کتبي رضایت سره سم په دې قرارداد کې تعدیل او تزید په هر وخت کې رامنځته کیدای شي. په دې قرارداد کې ټول تعدیلات د قرارداد اصلي او مهمه برخه پیژندل کیږي.

## 13. ځایناستي

په دې قرارداد کې مشخص شوي حقوق او مکلفیتونه ځایناستو ته انتقالیږي او اجراآت یې په دوی لازمیږي.

## 14. یادداشتونه او د روابطو رامنځته کول

### 14.1 یادداشتونه

ددې قرارداد له مخې ټولې اعلامې کولی شي له ایمیل یا .... څخه په استفاده واستول شي.

## 14.2 د ادرس تغیر

دواړه طرفونه باید یو بل ته د بانکي مالوماتو د تغیر په سرېره د خپلو تجارتي فعالیتونو د مرکز د ادرس د تغیر په اړه د پېښېدو راهیسې په (؟) ورځو کې احوال ورکړي.

(a) **د خرڅونکي بانکي مالومات:**

نام دارنده حساب بانکی:

د اکاونټ قسم:

د اکاونټ سکه:

د اکاونټ شمېره:

سویفت کوډ:

د بانک نوم:

ایمیل:

تیلفون/فاکس:

آدرس:

(b) **د اخېستونکي بانکي مالومات:**

د اکاونټ لرونکي نوم:

د اکاونټ قسم:

د اکاونټ سکه:

اکاونټ شمېره:

سویفت کوډ:

د بانک نوم:

ایمیل:

تیلفون/فاکس:

آدرس:

# د جدول شماره 1: د انوایس فارمت

**قرارداد:** د جنس د خرڅولو او اخیستلو په قرارداد کې الف طرف (**خرڅونکی**) او ب طرف (**اخیستونکی**)

**خرڅونکی:** الف طرف

**آدرس:**

**تیلفون:**

**بانکي مالومات:**

**د بانکي حساب نوم:**

**د بانکي حساب شمېره:**

**د سویفت نمبر:**

**نور مالومات:**

**د انوایس شمېره:**

**د انوایس دوره:** (xxx)

| قلم/جنس انوایس | | | | | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|
| واقعي تحویلي | | | | | |
| مجموع | | | | | |

لازم مجموعي مبلغ: ____________________

د تادیې وړ مبلغ ____________________

AFGHANISTAN CENTER FOR COMMERCIAL DISPUTE RESOLUTION

د افغانستان د سوداګریزو شخړو حل مرکز

مرکز حل منازعات تجارتی افغانستان

توسط: ________________

________________

(تاریخ)

لاسلیک: ________________

نوم، تخلص: ________________

ACDR

AFGHANISTAN CENTER FOR COMMERCIAL DISPUTE RESOLUTION

د افغانستان د سوداګریزو شخړو حل مرکز

مرکز حل منازعات تجارتی افغانستان